کاندیدای اکادمیسین سیستانی ۲۰۰۸/۰۱/۱۰م

# د يو آماتورليکونکی دناروا نيوکوځواب

سريزه:
د افغانستان دجوړيدو د ۲۶۰ کليزې په علمی غنده کی چی د افغانستان دکلتوری ودې ټولنې له خوا د ۲۰۰۷ کال داکتوبر پر ۱۹ مه دکلن په ښار کې داير ه سوې وه، ما په دغه غونده کې برخه اخيستی و، پدې غونده کې دعبدالله احسان له خوا د غونډې د برخه والو څخه دا پوښتنه وسوه چی : افغانستان د اوسنی بحران څخه څنګه نجات موندلای شی؟ هغه په رئيسه هييت کښې دناستو وينا کونکوڅخه هيله وکړه چی هر يو په يوه جمله کی خپل نظر څرګند کړی. زموږ ملګرو هريوه څه چی لازم ګڼله ووبل، خو ما پخپل وار سره خپل نظر داسي څرګند کړ: ترڅو افغانستان خپلی اختلافات دپاکستان سره حل نکړی، امنيت اوثبات به زموږ هيوادته رانسي.
دتفريح په وخت کی يو سړی ماته راغی او ويې پوښتل چی : سيستانی صايب! ايا ستاسو مقصد ددې جواب نه د ډيورند دکرښې په رسميت پيژندل دې؟ ما جواب ورکړه چی : که دپاکستان سره زموږ اختلافات ديوې مجموعې په توګه وبولونو د ډيورنډ دکرښې اختلاف په کې مهمه کړی ده. او زياته مې کړه چې پاکستان اوس د ډيورنډ دکرښې په رسيمت پيژندلو قانع نه دی، بلکی د **متک** تر پولې رسيدل غواړی، د دی ورستی جملې په اوريدو هغه سړی بلې خوا لاړ اوزه بيرته پخپل ځای کښيناستم. کله چی کنفرانس ختم شو او زه بيرته سويدن ته راغلم، په دې فکر کې شوم چې ديوې مقالې په ترڅ کې خپلې افکار اووړانديزونه په څرګند ډول هغه پوښتونکی او نوروافغانانو ته په ډاګه کړم، نو هغه و چی ما د( ما اتک ميخواهيم وپاکستان متک، اما طالبان چی ميخواهند؟)_تر سرليک لاندی مقاله تر ليکنی لاندی ونيوله، خو په دی لړکی زموږپه ښارکی يوافغان (رحمت الله حسن) راته تيليفون وکړه اودګروېږنی په ترڅ کی ئي پوښتنه ئی وکړه، پر څشی مصروف يې؟ ما ورته ووېل چی د يو افغان ديوې پوښتنې ځواب په فکر کې يم، خو ودې نتيجې ته رسيدلی يم چې دافغانستان دحکومت د ديرشوکلنو سياسی او تبليغاتی هلې ځلې د پښتونستان دجوړيدو په خاطر، ددې پرځای چې افغانستان يا دهاخوا پښتنو ته ګټه ورسوی ، هم موږ ته او هم د ډيورند دکرښې هاخواپښتنو ته ډير تاوان رسولی دی . ده ماته ووېل چی ښه به داوی چی خپله دغه مفکوره د يوې مقالې په ذريعه مطرح کړې ترڅو ډېرافغانان په دې پوه سی . ما ورسره ومنله او دنومبر دمياښتې په ترڅ کې ما وکړای سو چې يوه مفصله مقاله د"بررسی علل رشد افراطگرائی درميان قبايل شمال غربی پاکستان" ترعنوان لاندی تکميل او **دافغان-جرمن آنلاين** او **دعوت نت** سايټونو دلارې خپره کړم چی البته د ډېرو افغانانو خوښه سوې وه او ماته ئي دتبريکی ايميلونه را ورسيدل.
په دې سلسله کې دوهمه مقاله مې د(تاثيرات سوء افراطگرائی بروضع داخلی پاکستان) تر عنوان لاندی تکميله کړه او دنومبر په مياشت کی نوموړی سايټونو ته ورکړه او وروسی نوبت ورسيد د (ما اتک ميخواهيم و پاکستان متک و....) مقالې ته چې هغه هم د دسمبرپه مياشت کی دويب سايټونو له لاری نشر سوه. خو دا مقاله هم ديوعکس العمل سره مخامخ سو، مګر ما بيله دېنه چې دکج بحثی دروازه تکولې وی، يوه بله مقاله د (برای نجات وطن از بحران، چاره ئی جز نوشيدن جام زهر "خط ديورند" نيست) سرليک لاندې د نوموړوسايټونو له لاری خپره کړ ه.
څو ورځی وروسته ، يوه پښتون آماتورليکوال چې ويل کيږی په تاجکستان کی دبند ونهر په انستيتوت کی څوکاله حاضری ورکړې ده، او بيا دلر مودی دپاره دخلق دډموکراتيک ګوند دسياسی بيرو ديوغړی دستيار او ځانګړی بادی ګارد و، ودی ميدان ته را ودانګل او زما دمقالی په اړوندئې يوه اوږده بی سروپايه پر پره وليکل، چی نه نقد دی او نه کوم طرحه، بلکی د تورونو يوه مجموعه ده، اوښائی خيال وکړی چی د دی ميدان فاتح سوی دی.
مادلته دآماتورليکوال اصطلاح ځکه کارولې ده، چې ځينی خلک دوزګاری په وجه دخپل تحصيلی رشتې پرخلاف، ليکوالی ته مخه کړې ده، خو ليکوالی د دوی اصلی کار او مسلک نه دی. مسلکی ليکوالان هغه کسان دی چی داجتماعی علومو لکه : ژورنالېزم، تاريخ، ژبه، ادبيات، اقتصاد، حقوق او فلسفی په رشتو کې ئي تحصيل کړئ وی، او دعملی ژوند په ميدان کی زيادتره وخت دليکنی او مطبوعاتی کارنو سره مصروف وی، خو هغه کسان چی دطبيعی علومو لکه : زراعت، طبابت، جيولوجی، بيولوجی، رياضی يا نوروتخنيکی رشتوکی درس ويلی وی، او د بيکاری په وخت کی کله ناکله ليکوالی ته لاس وروړی، هغوته آماتور ليکوالان ويلای سو. د دی خبری معنا دانه ده چی دوی نسی کولای ليکنه وکړی، کولای سی، خو که د دوی ليکنی د دوی په اصلی رشته کی وی، ډيرې به قوی او معتبری ليکنی وی.
زموږ داپښتون انجنير.... هم يو د دغو آماتورليکوالانو څخه دی، خو زه دده نوم ځکه نه اخلم، چی پوهيږم د ده اصلی هدف، ځان مطرح کول دی، نه دا چی ده غوښتی وی د افغانستان او پاکستان داختلافاتو اولانجی يعنی د


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ډیورند دکرښې دحل دپاره کومه  نظریه او طرحه وړاندې کړی . زه په دې جواب کې د ده هغه تخریبی او توهین آمیزلیکنې هغه ټکې  چې ما او یو تعداد نورو ملی شخصیتونو ته متوجه سوې دي  په ګوته کوم او په لازمودلایلو سره  ئې ردوم ، او قضاوت  نوړولوستونکو ته ورپرېږدم .

## اصلی بحث ته راګرځم:

اول - زموږ آماتور لیکوال، زما پرهغه خواشینې چې  مادهیواد دجنوبی او شرقی پښتنو پروژنه  څرګنده  کړې وه، او تراوسه هم  د دغې وضعې د دوام څخه ډیر متاثر یم، داسی ملنډی وهی اولیکی :" ښاغلی سیستاني کله دجنوب او شرق دپښتنو پر وژنه اوښکې تویوي او خواشیني څرګندوي : "آیا بمباردمان در جنوب وشرق کشور باید تا نابودي آخرین فرد پشتون ادامه یابد یا اینکه بالاخره این جنگ باید در یک جائي توقف کند؟"
دلته  تاسوپخپله وګورئ آیا  زما په دې پوړتنې یادونه کې تاسې  کوم ناروا احساس یا انسانی ضد نښه نښانه  وینی چې دا سیاسی سوداګر، زما پردی انسانی احساساتوباندی ملنډې  وهلی دي او داسې  ئې ښکاره کړې چې ګواکې د وطن دخلکو پر وژنه  ژړا او خواشینی ښودل یو غیر انسانی کار وی؟ د ده  له دغه بې ځایه انتقاد څخه داسې معلومیږی چې دی  د وطن دخلګو پر وژنه  هیڅ چرت نه خرابه ئی او پکې رئ  هم نه وهی؛ خو زه اساساً  داسې  باعاطفه انسان یم چې د انسانانو د وژل کیدو څخه  سخته کرکه لرم ، اوڅوک چې د خپل هممنوع او بالخاصه دخپلو بیوزلو هیوادوالو په وژنه، محنت او رنځ متاثره نشی، ده ته موږ څنګه  دانسان  خطاب وکړو؟ اته قرنه مخ کی دشیراز لوی متفکراو مصلح  " سعدی" داسې فرمایلی و:
تــوکــز محنـت دیگران بیغمی
نشایـد که نـامت نـهـند آدمی
په دغه پوړتنی بیت کی نه یوازی دبنی آدم غم د انسان سره مطرح دی ، بلکی د وطن په سطح زموږ دیوه کور غم او درد را سره شریک دی .  که چیری موږ دخپلي کورنی د غړو په مړینه او وژنې نه خواشینې کیږو، او اوښکې ورته نه تویو، نوبیا څنګه ادعاکولای سو چې زموږ چرت د ډیورند دهاخوا پښتنو پر سرنوشت خراب دی ؟
هو! زه په ډیر افتخار سره وایم چې  زه دخپلو هیوادوالو اوبیا دجنوبی او شرقی پښتنو په وژنه نه یوازی زیات خواشینی اومتاثر یم،  ددوی پرحال ژاړم او سوزم، بلکې غواړم ددوی ږغ دخپلې لیکنې په وسیله نور وته هم ورسوم .په دی وجهه ما دخپلی مقالی په ترڅ کي دپښتنو د اوسنی غمجن ژوندانه تصویرکړی او دجنګ دقطع کولو دپاره مې هغه لارې او علتونو ته توجه  اړولی ده کوم  چې بالاخره  دهغه دعملي کولو څخه هیڅ چاره نلرو. ما دخپلي مقالي په یو ځای کې د اسوال مطرح کړئ  دی :
"من نمیدانم کسي از دولت مردان کشورتا کنون به این فکر افتاده  که جلو این کشت و کشتار در جنوب وشرق افغانستان گرفته شود یا خیر؟ اصولاً چرا باید جنگ در جنوب کشور متمرکز باشد و همین ولایات پیوسته مورد ضرب وشتم نیروهاي خارجي قرار داشته باشند؟ راه علاج و چاره  چیست؟ آیا بمباردمان در جنوب و شرق کشور باید تا نابودي  آخرین فرد پشتون ادامه یابد یا اینکه بالاخره این جنگ باید در یک جائي توقف کند؟  ... پیشنهاد راه معقول نجات کشور از بحران موجوده  از طریق جستجوي یک راه حل عادلانه رفع اختلافات با پاکستان، به معناي تخویف مردم کشور ازپاکستان نیست، بلکه برداشتن گامي است درجهت عادي ساختن روابط دیپلوماتیک دوکشور همسایه با توانائي هاي متفاوت نظامي و اقتصادي. آخرمګر میتوان تا ابد با همسایه قوي تر ازخود در دشمني زیست؟ همسایه ایکه هر روز وهر هفته و هرماه بخاطر ترانزیت مال التجاره خود از بنادر آنکشور ناګزیریم به  لطف وکرم او رجوع  کنیم. ادامه این روش تا دراز مدت ناممکن است  و  ضرر آن را مردم ما با پوست وګوشت خود احساس کرده ومیکنند."
زما اصلی مقصد په دی لیکنه کې، زموږ په هیواد کی پرپښتنوسیمو د بمبارېو بندول او دهری ورځی دانسانی فاجعې مخ نیول دی . په دی حساب ما خپل نظر خپلوهیواد والوته په دی منظور څرګند کړی دی چې دخپلو خلکو د ژوند د ژغورلو په مقصد، باید دپاکستان سره خپل تاریخی اختلافات  حل کړو. د اختلافاتو رفع کول ځانه ته خاص  میکانیزم لری چې سیاسی چاړواکي  او کارپوهانو پرې  پوهیږي  .  خو اوس چې افغانستان تر هروقت زیات دبین المللی دوستان حمایت له ځان سره لری دا به ښه موقع وی چې د ډیورند د کرښې لانجه هم په بین المللی سطحه او دبین المللی مینځګړیتوب په ذریعه حل سی . دافغانستان لوری دمتحده ایالاتو او ملګرو ملتونو سازمان په مرسته کولای شی دا شخړه په عادلانه توګه او سوله ایزه بڼه  حل کاندی، ترڅونورزموږ خلک دبمبارېو څخه خلاص او وطن ته سوله او ثبات راسی، او دبیارغونې چارې  خپل اصلی بهیر ته ور ولوېږی.
ما د پاکستان سیاست د افغانستان په مقابل کی دهغه تاریخی اختلافاتو نتیجه بللی ده چې دډیورند کرښې  د نه پیژندلو په وجه مینځ ته  راغلی  دي .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

افغانستان ته دآمریکا دراتګ هدف (دتروریسم پرضد مبارزه او امنیت ټینګول) اعلان سوېده ، خو پر امر یکا باندی افغانان دا انتقادلری چی د۳۷هیوادونو پوځی طاقتونو سره یوځای د دی پرځای چی ترور پستان (طالبان او القاعده) په پاکستان کی تعقیب کړی اوهلته دهغو پر پټوځایونو باندی حملی وکړی، ولی د افغانستان پر بیوزلوخلکوباندی بمونه پاشی ؟ ددې علت دپاکستان سیاسی چل ول او دسیسی بنودل سوی دي کوم چی دافغانستان سره ئي شپیته کلنی اختلافات لری، ترڅو دا اختلافات رفع نسی، پاکستان زموږ په مقابل کی خپل دغه سیاست تعقیبوی.
نو ما د دي لانجی او بحران دحل دپاره ، هغه اصلی او بنیادی لامل یا علت چی د ډیورندکرښه ده په ګوته کړې ده او ډیر پاخه اوژوندی مثالونه مي داعلیحضرت مرحوم امان الله خان ، مرحوم محمودطرزی د امانی دحکومت دخارجه چارو وزیر، اوپدي هکله دشهید سردار داود، سیاسی دریځونه ذکرکړی دي، او بیا مي د اوسنی ملی اوعلمی شخصیتونو دریځ په دی موردکی هم ذکر کړی او ددوی دقوله ځخه مي څوځجملی هم دسندپه توګه راوړی دي چی لوستونکی هغه ولولی او پری قضاوت وکړی . دامی هم ورپه ګوته کړي ده چی ما د دغو ملی او علمی شخصیتونو سره د ډیورند دکرښی دلانجی په هکله کوم مجلس نه ده کړی ، خو دملی دکتو دساتلو دپاره یو شانته نظر لرو، هماغسی چی زموږدپښتونولی احساس او ملی قوم پالنه تر هیچا په کمه نه ده، نوکه چیري دیوی تاریخی لانجي دحل دپاره یو ډول فکرکوو، داهم کومه لویه ګناه یا سیاسی خیانت نه دی، بلکی د وطن پرستی عالی حد ته رسیدل دی .

**مونږ په دی ښه پوهیږو چی دغه سیاسی لانجه تراوسه دپاکستان په ګټه ، او دافغانستان او هم دها خوا پښتنو په ضرر تمام سوي ده . د بیلګی په ډول، د پښتونستان داعیه چی دافغانستان دحکومت له خوا پورته سوي او په ټول قدرت او امکاناتو سره تعقیب سوی او دشوروی اتحاد او هند دحکومتونو له خواهم تائید سوي وه ، نه یوازی دا چی په دي ۳۰ کلونو کی زموږ ډیری نقدی پیسي په دی لاره کی ولاړې ، او په مقابل کی مو یوه ذره ګټه ترلاسه نکړل، خودهاخوا پښتنوهم په ضرر تمام سول . ځکه پاکستان چی د دینی او اسلامی ایدیالوژی په دلیل مینځ ته راغلی دی، دپښتونستان داعیه ورته یو ډیرښه بهانه سو چی د پښتونوالسیونالیزم دتضعیف کولو دپاره، دقبایلوپه سیمه کی پر بنسټ پالو او دینی مدرسو دومره قوت اوزور واچوی چی په نتیجه کی نه یوازی دپښتونستان د آزادی روحیه د ډیورند دکرښی هاخوا په پښتنوکی شندکړل شوه ، بلکی ددی مذهبی سرمایه ګذاری په نتیجه کښي په قبایلی سیمه کی دغۀ افراطګرائی ده چی اوس هم دبین المللی ملکونو له نظره ، او هم دافغانستان او دپاکستان دحکومتونو له نظره، قبایلی سیمه نن دطالبانو او القاعدې ( تروریستانو) زالګی په نامه پیژندل کیږی او ټوله شتمنه نړی په دی لټه کی ده چی څنګه دا خلک د مځکی له مخی نه نیست او ناوبود کړی .**

دوهم- زموږآماتور لیکوال انجنیر په یو بل ځای کی داسی لیکی : "له بده مرغه هغه کسان چي ددغي مسئلي حل دپاکستان په ګټه غواړي یو ئي هم دغو ټکو ته (کومي ټکو ته ؟س) ګوته نه نیسي او دهغو نه په ټوپونو تېرېږي خو ښاغلي سیستاني په خپله ټوله لیکنه کي دافغانستان دغه دریځ ته( کوم دریځ ته، ایا پخوانی حکومتونو دریځ ته؟ س) هیڅ اشاره نه ده کړی. زما له نظره که خدای مه کړه ستاسو مشوره ومنل سي او دډیورنډ کرښه ببله چون وچرا په رسمیت وپیژندل سي دا به داسي یوه تېروتنه وي ، چي زیان به ئي دکندمک او ډیورنډ دترونونو نه لږ نه وي."
په داپورته جملوکی دغه ټکی (**هغه کسان چي ددغي مسئلي حل دپاکستان په ګټه غواړي**) د مکث وړ دی . زموږ دوطن یو بیسواده سړی هم نه غواړی چی دا مسئله دپاکستان په ګټه تمامه سی، خو پاکستان دخپل دتشکیل را هیسی بیاتر اوسه د دغی ګټی ځخه استفاده کړی اوکوی ئي، دوي زموږ اقتصادی او امنیتی چاری هم خپل تر کنترول لاندی نیولي دی . که ستا مقصد د دی جملی ځخه هغه کسان وی چی د دی مسئلی دعادلانه حل غوښتونکی دی، نو په دی صورت ستا دغه جمله یو لوی توهین هغه ټولو ملی او سیاسی شخصیتونوته دی چی ما د هغوی نومونه او نقل قولونه پخپله مقاله کی راوړی دي . په اول سر کي ماته، بیا نو مرحوم حکیم تنیوال ، ورپسی استاد نګارګر، بیا باری جهانی ، اوبیا دستګیرخروټی او ورپسی رومان صاحب ته دی . دانو ته پریږده چی دا توهین حتی و مرحوم اعلیحضرت امان الله خان، محمودطرزی اوپه آخرکی مرحوم سردار داود ته رسیږی، ځکه اعلیحضرت امان الله خان او د ده دخارجه چاروزیر محمود طرزی د ډیورند کرښه دسرحدی کرښی په توګه په رسمیت وپیژندل او بیا داود خان په آخر کی دي ته حاضر سو چی د ډیورندکرښه دپاکستان سره دیو مناسب بدیل په مقابل کی په رسمیت وپیژنی اوخپل ملت د یوه لوي تاریخی رنځ او مصیبت ځخه خلاص کړی .
آیا ته دا ویلاي سي چي تر ما او تر استادنګاګر، باری جهانی، مرحوم حکیم تنیوال، اعلیحضرت امان الله خان، محمودطرزی ، اوسردارداود او نور ملی او علمی شخصیتونه چی ما د هغوی نومونه او نظریات په خپله مقاله کی راوړی دی، وطن پرست تره ئی ؟ که چیری داسی وی نودخپل وطن پرستی یوځو مثاله د هغه وخت ځخه چی ته د


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

سیاسی بیرو دیوغری بادی گارد، یا سکرتر وی ، راته ولیکه ، ترڅو موږ ستا په وطن پرستی پوه سو. ځان تر نورو غیر حق جگ ښوول، معقول کار نه دی، او دخلگو نفرت را پاروی .
داهم دویلو بولم : تاسی اعتراض لری چی ولی سیستانی دپخوا حکومتونو دریځ ته هیچ اشاره نه ده کړې، کابلیان یو متل لری چی وائی:" هرسخن جائی و هرنکته مکانی دارد." د افغانستان پخوانی حکومتونو دریځ زما دمقالی موضوع نه وه او زه په خپلو خبرو ښه پوهیږم چی دخپلی مقالې په لیکلوکښې ښشی ته اشاره وکړم او کوم شی ته اشاره ونکړم . دا هغه دکابلیانو خبره(هرسخن جای و هرنکته مکانی دارد) خبره ده، چی ستاسر ممکن پخلاص نسی .
خوته چی دپخوانی حکومتونو اوبلخاصه د خلق د دdموکراتیک گوند د دریځ پلوی کوی، هغه ته اشاره کوه، خو زما په هغه مقاله کی دی موضوع ته نه جایی او نه هم مکاني وو. جالبه خبره داده چی ته د پخوانیوحکومتونو د دریځ پلوي کوی، مگر ښاغلی دستگیر خروټی چی تر تا په دولتی اوحزبی لحاظ خورا مخ کی وو، اوتر تاډیر پخوانی حزبي دی ،د هغه حکومتونوپر موقف اودریځونوانتقاد لری او په ډاګه مو نظر د دی لانجی دحل دپاره څرګند کړی او لیکلی دی ،چی ما یوه برخه پخپل مقاله کی رانقل کړې وه .
راغلو دی خبری ته چې لیکې :" زما له نظره که خدای مه کړه ستاسو مشوره ومنل سي دډیورنډ کرښه بېله چون وچرا په رسمیت وپیژندل سی"
زما دخولی ځخه د "بېله چون وچرا " کلمات او جمله کارول ، یو غیر مسؤولانه کار، اوپه اصطلاح دخپلې دګېډې خبری را ایستل دي . کله او په کوم لیکنه کی ما ویلی دی چی داسی یوه مهمه مسئله بیله چون وچرا په رسمیت وپیژندل سی؟ هیڅوک داحق نلری چی دځانه ځخه یو حرف هم زما له خولی ځخه په دی مورد کی اضافه ووایي !
هر کارخپل خاص پروسیجر لری، خو مشروط په دې چی څوک د دې موضوع دحل دپاره چمتوسی او د ملت نظر دلوي جرګې اویا ریفراندم له لاری دغه دسرطان دناروغی علاج وکړی . ته بیغمه اوسه چی دا مسئله نه زما په مشوره او نه هم دجهاني په نظر سره دحل لاره پیدا کوی .
خو داخبره د ویلو وړبولم چی هرڅوک چی د دی وطن دپاینت په فکرکی دی، دا حق لری د ملی مسایلو په وړاندي خپل نظر څرګند کړی . که موږ دیموکراسی ته لږ احترام لرو، باید دخپلومخالفینو نظریاتو د اوریدلو طاقت اوزغم ولرو او ورسره بحثونه وکړو، که هغه نظریات ښه وی و ئې منو او که ناقصه وی , رد یې کړو . په دی توګه موږ کولای سو چی یوه صحی او درسته لار خپل دولت او خلکو ته وړاندی کړو. دولت البته دخپل دمسؤولیتونو په نظر کی نیولو سره داحق لری چی پردغو وړاندیزونو غور وکړی او هغه نظر چی دملی ګټو د ژغورلوارزښت ولری ، دهغه ځخه استفاده وکړی ، او که نه وی ایسته ئی غورځوی . خو دا په کارده چی زموږ روښنفکران لاس تر ځنی کښې نه نې، د بیچاره او بیوزل خلکو دنجات دپاره یوکار وکړی، نه دا چی هغه دچا خبره **" بزک بزک نمُر که جو لغمان میرسه"** کنه نو تر جو لغمان رسیدلو پوری د دې بیچاره **"بزک"**(ولس) به سا وخیژی او بیا به نودلغمان جو هیڅ ګټه ورته ونه کړی .
**دریم-** اوس به راسو دلیکونکی ودی افسوس ته چی زما پریو نقل قول ئی ښکاره کړئ دی، او وائی د جهانی رانقل سوی خبری د اوسنی بحث یعنی د ډیورند دکرښی د لانجی سره هیح تړاو نلری ، او داسی لیکی: "متأسفانه دښاغلي جهاني دخبرو یوه داسي برخه را اخستل سوې ده، چي داوسني بحث سره هیڅ مطابقت نه لري او دهغه مخکنۍ خبري پري سوي دي. زه نه پوهیږم چي دا کار به په قصدي توګه سوی وي او که په تېروتنه؟ کېدای سي دا په دي خاطر سوی وي، چي دښاغلي جهاني دشخصیت نه په ګټه اخستلو سره ، خپلو خبرو ته وزن ورکړي او هغه په خلګو ومني."
خو زه وایم خوشبختانه چی ما دباری جهانی داصلی متن سره کومه بی غوری نه ده کړې . اود ده افسوس بیخی بیخایه افسوس دی، ځکه دی نه پوهیږی چی یو ځیرونکی دا حق لری چی دخپلی موضوع په اړوند دیوبل لیکوال یوه جمله، یا یوه کلمه، یا یوه برخه راواخلی چی د ده نظراو طرحی ته مرسته رسولای سی خو شرط دادی چی موخذ ذکرکړي . د عبدالباري جهانی مصاحبه یوپراخ مصاحبه ده، په هغه کی د شعر، شاعری او نورو ادبی اړخونو په هکله بحث شوئ دی ، خو په آخر کی د ډیورند په مورد کی څو سوالونه ځینی سویدی . زما مقصد دلته د ده نظر دډیورند دکرښی پر سر دافغانستان او پاکستان په مینخ کی دلانجې په هکله وو.
تاسي وګوری چې دباری جهاني خبرې د ډیورند دکرښی سره او زما د (برای نجات وطن از بحران، چاره یی جز نوشیدن جام زهر"خط دیورند " نیست) مقالی سره ارتباط لری او که ئې نلری ؟زه دجهانی صاحب دنظر یوه برخه بیا را اخلم : هغه وائی:"**....** د برتانوي هند د ړنګېدلو سره یو ځاي پاکستان منځته راغلئ او هغه هیواد په ملګرو ملتونو کي رسمي غړیتوب لري او ټولي نړۍ په رسمیت پیژندلئ دئ. د یوه هیواد د رسمیت پیژندلو سره د هغه سرحدات په رسمیت پیژندل کیږي او ددې معني دا ده چي ملګروملتونو، نړۍ او له هغې جملې څخه افغانستان دغه سرحدات په رسمیت پیژندلي دي. او له یوه پیژندل سوي هیواد څخه، چي تر افغانستان په سل چنده قوي دئ، د دوو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

بشپړو صوبو اخیستل د ماشومانو خبري نه دي. دا مهمه او حیاتي مسئله یوازي په احساساتي کلمو او څو شعرونو اوشعارونو نه حلېږي.پاکستان ۱٦۰ میلیونه نفوس او پنځه سوه شل زره پوځ او اټومي وسلې لري. د دې ګاونډي سره ټوکي نه سي کېدلای. دا د ماشومانو خبري نه دي او که تش په ښکنځلو د ډیورنډ کرښه ماتېدلای نو اوس به زر ځله ماته سوې وای.

<u>د افغانستان اوسني دولت باید یا د ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژني او هیواد د تل لپاره د جنجال څخه خلاص کړي. یا دا موضوع په ملګرو ملتونو کي په جدي توګه مطرح کړي او له هغه چا څخه چي د افغانستان او صوبه سرحد د پښتنو حقوق یې تر پښو لاندي کړي دي د خپل حق غوښتنه وکړي.</u> اوکنه نو دریمه یې د زور لاره ده . البته د زور لار هغه وخت ممکنه ده چي په پاکستان کي دېره پښتانه زموږ سره دا ومني چي دوي هم د ډیورنډ د منحوسي کرښي لیري کېدل غواړي او په دې لاره کي مبارزې او قربانۍ ته راسره حاضر دي.

<u>نن ورځ په ټول پاکستان کي د پښتنو داسي تحریک نسته چي یا له پاکستان څخه د استقلال اخیستلو او یا له افغانستان سره د یو ځای کېدلو برالا چیغه پورته کړي. اوس نوکله چي په پاکستان کي هیڅ ږغ پورته سوئ نه وي. په ملګرو ملتونو کي چا دامسئله مطرح کړې نه وي، حکومتونو یوجدي اقدام کړئ نه وي، په تشو نارو وړې نه شړی کېږي</u>
"(بینوا ویب سایت ۲۰۰۷)

اوس دي لوستونکی دښاغلی دباری جهانی پورتنیو جملو او روښانه څرګندونو ته خپل پام راواړوی چی د ده نظرزما دمقالی دموضوع سره مستقیم او نشلیدونکی ارتباط لری او که نه ؟ خو زه فکر کوم چی د ده افسوس له دې جهته دی چی ګواکی جهانی صاحب د ده څخه خپه نسی ، ځکه دی دجهانی صاحب دخبرو د ردولو په لټه کی نه، بلکی دسیستانی دخبروپه ردولو پسی دی . نه پوهیږ م زموږاماتور لیکوال اوس د ویلو دپاره بل ښشی لری چی بیا ئې په افسوس سره بیان کړی . د دوی دمقالې هره کرښه د ردولو ډیرې زمینی لری خو دا دنموني په توګه دلته په ګوته سوه، ترڅوله دې نه راوروسته دخپلو خبرو په کولوپوه سی او ذهنی حکومونه د داسی یوې ملی او مهمي مسئلې په هکله په نورو پوری ونه تړی .چی ښه عواقب نلری .

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de